# إِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ أَيِسَ أَنْ يَعْبُدَهُ الْمُصَلُّونَ فِي جَزِيرَةِ الْعَرَبِ، وَلَكِنْ فِي التَّحْرِيشِ بَيْنَهُمْ». "په عربي ټاپووزمه کې شيطان له دې نا اميده شوی چې څوک يې عبادت وکړي، خو په دوی کې له مخالفتونو او تر منځه يې شخړو اچولو څخه نه دی نا اميده شوی

له جابر رضي الله عنه څخه روايت دی وايې چې ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اورېدلي چې فرمايل يې: «إِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ أَيِسَ أَنْ يَعْبُدَهُ الْمُصَلُّونَ فِي جَزِيرَةِ الْعَرَبِ، وَلَكِنْ فِي التَّحْرِيشِ بَيْنَهُمْ». "په عربي ټاپووزمه کې شيطان له دې نا اميده شوی چې څوک يې عبادت وکړي، خو په دوی کې له مخالفتونو او تر منځه يې شخړو اچولو څخه نه دی نا اميده شوی".
[صحيح] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي چې د عربو په جزيره کې شيطان له دې نا اميده شوی چې لمونځ کوونکي مؤمنان يې بيا عبادت وکړي او بت ته سجده وکړي، خو لا تر دې دمه تمه لري، کوښښ کوي، زيار باسي، کار او هڅه کوي چې تر منځه يې جنګونو، شخړو، فتنو او داسې نورو ته لمن ووهي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/8886